## د بازارونو کنټرول او آداب

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: {وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ * الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ * وَإِذَا كَالُوهُمْ أَوْ وَزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ * أَلَا يَظُنُّ أُولَئِكَ أَنَّهُمْ مَبْعُوثُونَ * لِيَوْمٍ عَظِيمٍ * يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ} ژباړه: « (په تله او ترازو کي) د کم ورکونکو لپاره تباهي ده:* د هغو حال داسي دی چې کله له خلکو څخه په پيمانه څه اخلي، نو پوره پوره يې اخلي؛* او کله چې هغو ته په پيمانه يا تله څه ورکوي، نو کم يې ورکوي؛* ايا دا خلك باور نه کوي چې دوی را پاڅول کېدونکي دي؛* په يوه لويه ورځ؛* هغه ورځ چې کله ټول خلك د عالميانو د پروردګار په حضور کښي ودريږي»، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

الله جل جلاله د خپلو بندګانو لپاره د توکو پلور او پيريدنه روا کړي دي ترڅو خپلي موخی ته پري ورسيږي او خپلي اړتياوی پري پوره کړي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا ۚ» ژباړه:«په داسي حال کښي چې الله تجارت روا او سود ناروا کړيدی» او له پخوا څخه د خلکو عادت همداسی وو چې بازارونه به يې جوړول ترڅو ددي لاري ګټه ترلاسه کړي او خپلي اړتياوي پوره کړي او د قرانکريم د آياتونو څخه څرګنديږي چې دا دبشر د نبنو څخه يوه نښه ده لکه چې الله جل جلاله فرمايی:« وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا إِنَّهُمْ لَيَأْكُلُونَ الطَّعَامَ وَيَمْشُونَ فِي الْأَسْوَاقِ» ژباړه:« [ای محمده(ص)!] ستا څخه مخکي چې موږ هر څومره پيغمبران لېږلي ول، هغوی ټول هم خواړه

خوړونکي او هم په بازارونو کښي ګرزېدونکي خلك ول» همدارنګه قرانکریم د مشرکانو هغه وینا را اخیستي ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په هکله یي ویلي دی: «{وَقَالُوا مَالِ هَٰذَا الرَّسُولِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِي فِي الْأَسْوَاقِ}» ژباړه: «دوی وایي: "دا څنګه پېغمبر دی چي خواړه خوري او په بازارونو کښي ګرځي راګرځي؟» او د اصحاب کهف په کیسه کښي الله جل جلاله د هغوی حالت بیانوي او فرمایي: «فَابْعَثُوا أَحَدَكُم بِوَرِقِكُمْ هَٰذِهِۦٓ إِلَى الْمَدِينَةِ فَلْيَنظُرْ أَيُّهَآ أَزْكَىٰ طَعَامًا فَلْيَأْتِكُم بِرِزْقٍ مِّنْهُ » ژباړه«اوس له خپلو څخه یو تن ته د سپینو زرو دغه سکه ورکړئ، ښار ته یې ولیږئ او و دي ګوري چې تر ټولو ښه پاك خواړه چېري موندل کیږي، له هغه ځایه دي، هغه یو څه د خوراك لپاره درته راوړي».
بي له شکه د بازارونو څارنه د حقیقي اسلام د پلي کولو یوه مهمه نښه ده که چیرته ته وغواړي چې د عبادت اغیزی د خلکو په سلوک کښي وګوري نو بازار ته ولاړ شه او د هغوی څارنه وکړه او که ته غواړي چې د یو چا دینداري معلومه کړي چې آیا دا په ریښتیا دینداره دی او که هڅي په ښکاره ځان دینداره ښایي، نو د دغه شخص حالت پیژندنه د هغه د چال چلند څخه معلومیږي چې په خرڅلاو او په توکو رانیولو کې سرته رسوي نو د همدي لپاره کله چې یو سړی د عمر رضی تعالی عنه څنګ ته راغی چې د شهادت او د ګواهی ورکولو غوښتنه تري کوله نو عمر رضی الله تعالی عنه ورته وویل: زه تا نه پیژنم دا مهمه نده چې زه تا نه پیژنم ته داسی یو څوک راوله چې هغه تا پیژني نو سړي وویل چې زه یي پیژنم عمر رضی الله تعالی عنه ورته وویل چې ته یي څنګه پیژني؟ هغه ورته وویل چې په عدالت او په فضیلت باندی، عمر رضی الله تعالی ورته وویل آیا دا ستا ګاونډي دی چې د هغه شپي او د ورځي وتل او راتلل ټول درته معلوم وي؟ هغه ورته وویل، نه ، بیا یي ورته وویل آیا تا سره یي په کومو پیسو معامله راغلی ده چې پکښي دینار یا درهم وی چې د هغي په پرهیزوالي باندی دلالت وکړي؟ هغه ورته وویل: نه، نو عمر رضی الله

تعالی عنه ورته وویل: آیا تا سره په سفر کې ملګری پاتی شوی چې د هغه د ښو اخلاقو ښودنه وکړي؟ هغه ورته وویل: نه، نو ورته یي وفرمایل: چې ته هغه نه پیژني بیا یي هغه بل سړي ته وویل چې ته داسی یو څوک راوله چې تا وپیژني.
نو معاملات پخپله چې پکې پلورل او پیرودل راځي د یو شخص د دینداری ریښتینولي او همدارنګه دروغوالی رابرڅیره کوي ځکه ددي لاري مونږ کولی شو چې د یو شخص دینداري وپیژنو چې آیا شکلي دینداري کوي او که په ریښتیا هم دینداره دی ځکه چې ډیری داسی خلک شته چې پخپله ژبه باندی د توکو دومره صفت کوي چې خلک پری دوکه کړي او حال دا چې دغه توکی داسی نه وي او همدارنګه داسی اشخاص هم شته چې د شکلي دینداری ترشا کبر او ریا کوي او دا یی د ګټي لپاره یوه وسیله ګرځولی وي ترڅو خپلی توکي خرڅ کړي او خلکو ته یي په دینداری باندي ځان نږدی کړی وي او د هغوي باور یي لاسته راوړی وي.
همدارنګه ددغه ناوړه شکلونو څخه بل هم دا دی چې ځیني داسی نومونه په توکو باندی ایږدی چې ورباندی نه پلي کیږي ترڅو خلکو ته پري دوکه ورکړي او په دینداري باندی سوداګري وکړي سره لدي چې په واقعیت کې به داسی نه وي او ددي لاري ګټه او پیسی لاسته راوړي او حال دا چې پدی سره هغه خپل دین ته زیان رسوي او د خلکو په نفسونو کې بد انځور وړاندی کوي الله جل جلاله فرمایی: «وَمِنَ النَّاسِ مَن يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللَّهَ عَلَى مَا فِي قَلْبِهِ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ * وَإِذَا تَوَلَّى سَعَى فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ» ژباړه:« په انسانانو کې څوك داسي دي چې د هغه خبري د دنیا په ژوند کښي تا ته ډيري ښې ښکاري او هغه پر خپلي نيك نيتی په وار وار الله شاهد نيسي، خو په حقيقت کې هغه د حق ډېر سخت دښمن وي* او کله چې هغه ته قدرت په لاس ورځي (يا کله چې بېرته وګرځي)، نو په ځمکه

کښي د هغه ټولي هلي ځلي ددې لپاره وي چې فساد خپور کړي، کښتونه لوټ کړي او انساني نسلونه له منځه یوسي. په داسي حال کښي چې الله (هغه ذات چې هغه به شاهد نیوه) هیڅکله فساد نه خوښوي».
د اسلام مبارک دین د بازارونو لپاره بیلابیل آداب او بنستیونه ایښي دي چې مسلمان باید د پلورلو او پیردلو په وخت کې هغه مراعت وکړي چې لدی جملی څخه یو هم دا دی چې د الله جل جلاله ذکر وکړي او د بازار ځارنه په ښه ډول ترسره کړي ځکه چې مسلمان په هر حالت کې باید الله یاد کړي هغه که په ژبي سره وي او که د بدن د غړو په وسیله، بازار هم یوه دعاء لري چې مسلمان باید د داخلیدو څخه مخکښې هغه ووایي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: کله چې یو څوک بازار ته داخلیږي او دا دعاء ووایي: (لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ ، يُحْيِي وَيُمِيتُ ، وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ كُلُّهُ ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) نو الله جل جلاله به ورته په زرګونه نیکۍ ولیکي او په زرګونه بدۍ به تري لري کړي او په جنت کې به ورته یو کور جوړ کړي مونږ پدي باندی ټینګار کوو چې د الله جل جلاله ذکر یواځی په ژبی سره نه وي بلکي پدی سره هم وي چې ددی پاملرنه وکړي چې الله جل جلاله انسان په هر حالت کې ځاري نو حلالو نه ګټه پورته کړي او د حرامو څخه ځان وساتي.
همدارنګه د بازار د آدابو او د بنستونو څخه بل هم دا دی چې ریښتیا به وایی او د درواغو څخه به ځان ساتي په اصل کې مسلمان باید په هر حالت کې صادقه ووسي لکه چې الله جل جلاله فرمایی:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ» ژباړه:« اې مؤمنانو! د الله څخه ووېرېږئ او د رښتینو خلکو ملګري شئ» او لدي څخه یو هم دا دی چې په بازار کې د توکو پلورلو او پیریدلو په وخت کې باید صداقت څخه کار واخلي مسلمان ته روا نده چې د خپلو توکو د خرڅلاو لپاره دروغ ووایي ځکه چې دغه ډول دروغ ویل ددي لامل کرځي چې په دنیا کې برکت

لمنځه ولاړ شي او په آخرت کې به دغه انسان د الله جل جلاله د رحمت څخه لرې وي همدارنګه ګناه نوره هم سختیږي او لویږي په هغه وخت کې چې د توکو د خرڅلاو لپاره په دروغو قسم وخوري نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: خرڅوونکي او اخیستونکی اختیار لري تر هغه وخته پورې چې جلا شوي نه وي که چیرته داوړه ریښتیا ووایي او ښکاره هر څه بیان کړي نو د هغوي په دغه سودا کې الله جل جلاله برکت اچوي او که چیرته دوي یو څه پټ کړی او دروغ ووایي نو د دوی پدغه سودا کې برکت لمنځه ځي همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: درې کسان داسې دي چې د قیامت په ورځ به الله جل جلاله له هغوي سره به خبرې نکوي او هغوي ته به د رحمت نظر هم نکوي، یو هغه سړی چې په توکو باندي په دروغو قسم خوري او هغي ته داسي صفتونه ورکوي چې پکي نه وي او بل هغه سړی چې چې په دروغو قسم خوري ترڅو د یو بل مسلمان ورور مال وخوري او بل هغه سړی چې اوبه ورسره زیاتي وي خو د نورو څخه منع کوي نو الله به ورته ووایي: نن ورځ به زه تاته خپل فضل او کرم نه درکوم لکه څنګه چې تا هغه څه چې درسره زیات وو د خلکو څخه دي منع کړي وو، په بل روایت کې راغلي څوک چې خپلي توکي په دروغو سره خرڅوي او په دروغو قسم خوري ترڅو د نورو مسلمانانو مال وخوري د الله تعالی سره به داسي مخامخ کیږي چې شرمنده به وي او لعنت به پري ویل کیږي نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپلو صحابه کراموته فرمایل: په راکړه ورکړه کې د زیات قسم خوړلو څخه ځانونه وژغورئ ځکه چې قسم که څه هم په پیل کې توکي مو خرڅوي خو په پای کي هغه نابودي ده.

همدارنګه ددغه عاداتو او ښستونو څخه بل هم دا دی چې امانتداري او رضایت باید ترلاسه کړي او دوکه ونکړي امانتداري ددي غوښتنه کوي چې د توکو په پلورلو او پیریدنه کي باید بشپړ وضاحت موجود وي ترڅو د دواړو اړخونو ترمنځ په بشپړه توګه سره رضایت ثابت شي لکه چې الله

جل جلاله فرمايی:« إِلاَّ أَن تَكُونَ تِجَـارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنْكُمْ» ژباړه:« مګر (خورئ يې) که راکړه ورکړه د دواړو خواو په خوښۍ سره (په روا توګه) وي» همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم عثمان بن عفان رضی الله تعالی عنه ته فرمايلي کله چې ته يو څه اخلي نو د تللو غوښتنه تری وکړه او چې ته خرڅوی نو تلل وکړه.
همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم د فاسدو ضميرونو خاوندانو ته خبرداری وکړی چې دوي ددی پاملرنه نکوي چې الله جل جلاله دوي څاري او هغوي ته يي خبرداری ورکړی دی چې دغه ډول خبيث کارونه سرته رسوي او خلکو ته دوکي ورکوي او د هغوي مالونه په ناوړو لارو باندی خوري او دوکه ترسره کوي نبي کريم صلی الله عليه وسلم ددی په هکله فرمايي: څوک چې دوکه وکړي هغه زمونږ څخه ندی.
همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم شريکانو ته لارښونه کړی ده چې پخپلو منځو کې د شراکت بنسټ بايد په امانتداری او صداقت باندي ودروي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايی الله جل جلاله فرمايلي: زه د دوو شريکانو ترمنځ دريم يم که چيرته دوي پخپلو کې خيانت او دوکه ونکړي او که چيرته خيانت يی وکړو نو زه د هغوي له منځ څخه ووځم.
همدارنګه د ادابو څخه بل دا دی چې په تله او ترازو کې بايد پاملرنه وکړی او ددي معنی دا ده چې بايد داسی ونکړی کله چې د خلکو څخه څه اخلی نو په پوره وزن باندی اخلی او کله چې هغوي ته څه وزن کوې نو په هغي کې دوکه کوي او په کم وزن باندی تلی، د وزن او د تلی سره نور هغه شيان چې مشابه دي هغه هم پدي کې راځي چې ځيني معيارونه او اندازی دی چې خلک په هغی باندی خپل ورځني معاملات سرته رسوي الله جل جلاله امر کړی دی چې بايد د وزن په کولو کښې د انصاف څخه کار واخلي لکه چې پخپل کتاب کې فرمايي:« وَأَوْفُوا الْكَيْلَ إِذَا كِلْتُمْ وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلا» ژباړه: « که په پيمانه ورکړه کوئ، نو پوره يې ډکه کړئ که تله کوئ، نو په سمه ترازو

يې وکړئ دا ښه کړنلاره ده او د عاقبت له پلوه هم همدا ډېره غوره ده»
او که چیرته کوم چا دا کار ونکړو نو الله تعالی وعده ورکوی لکه چې پدې قول کې فرمايي:« وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ* الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ * وَإِذَا كَالُوهُمْ أَوْ وَزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ» ژباړه: «په تله او ترازو کي د کم ورکونکو لپاره تباهي ده:* د هغو حال داسي دی چې کله له خلکو څخه په پيمانه څه اخلي، نو پوره پوره يې اخلي؛* او کله چې هغو ته په پيمانه يا تله څه ورکوي، نو کم يې ورکوي».
شعيب عليه السلام خپل قوم ته خبرداری ورکړی وو چې د شيانو په تللو او وزن کې کمښت ونکړي لکه چې پدي هکله په قرآنکريم کې الله جل جلاله فرمایی:« وَإِلَى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ قَدْ جَاءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ فَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ» ژباړه:« او د مدين اوسېدونکو ته موږ د هغوی ورور شعيب (ع) ولېږه؛ هغه وويل: "اې زما قومه! د الله بندګي وکړئ، له هغه پرته ستاسي هيڅ بل خدای نشته؛ تاسي ته ستاسي د رب څرګنده لارښوونه راغلې ده. نو تله او پيمانه پوره ورکوئ، خلکو ته د هغو په شيانو کښي تاوان مه اړوئ او په ځمکه کښي فساد مه راولاړوئ چې کله د هغې اصلاح شوېده؛ په همدې کي ستاسي ښېګڼه ده که په رښتيا مؤمنان یاست».
د بازارونو د آدابو څخه بل هم دا دی چې د بل چا په حقونو باندي بايد تيری ونکړي او پدي ډګر کې نبي کريم صلى الله عليه وسلم لدي څخه منع کړي ده چې يو انسان د خپل بل ورور په سودا باندي سودا وکړي لکه چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: په تاسو کې دی څوک د خپل بل ورور په سودا باندی سودا نکوي (په بل روايت کې راغلي دي چې د خپل بل ورور په سودا باندی سودا مکوئ او د خپل بل ورور په سودا باندی نرخ دومره مه ښکته کوئ تر دي پوری چې هغه هم خپله سودا ښکته کړي او يا دا چې ديته اړ شي ترڅو د هغه څخه سودا

ونکړي، دا په پلورلو او پیریدلو کي د لویو ادابو څخه ګنل کیږي یو څوک چې کومي توکي اخلي ته باید د هغه نرخ زیاد نکړي ترڅو هغه توکي ته واخلی او همدارنګه د خپل بل ورور توکي باید دومره عیبجن نکړي چې بل څوک تري ولاړ شي ترڅو هغه توکي تري ته واخلی.
د بل چا په حقونو باندي د تیری د شکلونو څخه بل هم احتکار یا انحصار دی چې د خلکو په ورځني روزی کي دوکه کول دي او دا خپله خلکو او هیوادونو ته زیان رسوي نبي کریم صلی الله علیه وسلم پدي هکله فرمایی: چې احتکار یا انحصار د ګنهګار پرته بل څوک نکوي احتکار کوونکی شخص باندی خپل نفس غالبه شوی وي او خپل ځان په نورو باندی مخکې ګڼي او دا یي هیر کړی وي هغه زیاته ګټه چې لاسته راوړي او د احتکار او د انحصار له لاري یي ګټي دا د حرامو مال دی او د حرامو مال په دنیا کې هلاک کوونکی دی او په آخرت کې د لعنت او د رحمت څخه د لیري والي لامل ګرځي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: څوک چې د مسلمانانو غذایي توکي احتکار یا انحصار کړې الله تعالی هغه په پیس ناروغی باندي مبتلا کوې او د مفلسی حالت پري راځي، همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه سلم فرمایي: څوک چې څلویښت شپې خواړه د زیان په خاطر له ځانه سره وساتي الله جل جلاله د هغه څخه بیزاره کیږي.
دلته مونږ پدي ټینګار کوو چې د بازارونو څارنه د دولت د عامو دندو څخه ګڼل کیږي او پدي ډګر کې باید د ټولو هغو ادارو سره مرسته وشي ترڅو ددغه ډول چل فریب او د دوکي مخنیوي وشي ځکه چې دغه ډول ناوړه پدیدو لمنځه وړل ددي لامل کیدلی شي چې په ټولنه کې نفسي امنیت برقرار شي او همدارنګه د اقتصاد په ډګر کې هم پرمختګ رامنځته شي او په سیمه ایزه او نړیواله کچه باندی د پرمختګ لامل کیدلی شي خو دوکه او فریب بیا د فساد دروازی خلاصوي او د هیوادونو اقتصاد ویجاړوي.

همدارنګه مونږ پدي باندي ټينګار کوو چې د بازارونو څارنه يو لوی امانت دی او د هر هغه چا په غاړه باندی لوی مسؤليت دی چې پدغه ډګر کې په کومه دنده باندی ګمارل شوی وي او يقينا الله جل جلاله به د هر انسان څخه د هغه څه پوښتنه کوي چې ورته سپارل شوي دي چې آيا د هغه ساتنه يي کړی او که هغه يي ضايع کړی دی.

اقول قول هذا و استغفرالله لی و لکم.

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ټولو ملګرو باندي.

درنو مسلمانانو ورونو:

د خلکو په خوراک څښاک او د هغوی د اړتياوو پوره کول او خونديتوب يوه ټولنيزه او انساني مسئله ده چې د بشري حقوقو په سر کې راځي ځکه چې د يو باعزته ژوند تصور تر هغه نشي کيدلای چې يو انسان د غذايي توکو او د درملو له اړخه خوندي نه وي نو لازمه ده چې پدغه ډګر کې ټولی هڅی سره يو کړو ترڅو د ټولو هغو پديدو مخنيوی وکړو چې د دوکي د احتکار او د انحصار لامل ګرځي په ځانګړي توګه هغه چاری چې د غذايي توکو او د درملو سره اړه لري.

هر هغه سوداګر چې پخپل دين باندي پوه وي د هغه د عبادت اثر هغه که لمونځ وي او که روژه وي په ښکاره څرګنديږي او همدارنګه د هغه رينښتينولي او امانت هم رابرڅيره کيږي ځکه چې روژه نيونکی چې کله روژه نيسي نو هغه د تندي او د لوږي سره مخامخ کيږي او همدارنګه هر هغه څوک چې لمونځ کوي او عبادت سرته رسوي نو هغه ته به ستومنتيا او دشپی ويخ پاتی کيدل اړين وي نو له همدي لپاره نبي کريم صلی الله عليه وسلم د هغه سوداګر مرتبه چې رينښتينی او امانتدار وي ډيره لويه بيانه کړی ده لکه چې فرمايي: هغه سوداګر چې هغه رينښتيني او امانتداره

وي نو هغه به د نبیانو او د ریښتیني خلکو او د شهیدانو سره په یو صف کې وي همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: یقینا ښه کسب هغه د سوداګرۍ کسب دی هغه سوداګر چې کله خبرې کوي دروغ نه وایي په امانت کې خیانت نکوي په وعده کې خلاف ورزي نکوي او کله چې څه اخلي غلطي خبري نکوي او کله چې څه خرڅوي نو ظلم نکوي او که د چا څخه پور وړی وي نو په ادا کولو کې یي ځنډ نکوي او که د هغه څخه چا پور اخیستی وي نو پور وړی نه مجبوروي.
همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم خبر ورکړی دی چې ریښتینی سوداګر به د الله جل جلاله د عرش تر سیوري لاندي وي په هغه ورځ چې د هغه د عرش پرته بل سیوری به نه وي لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: ریښتینی سوداګر د قیامت په ورځ به د عرش تر سیوری لاندی وي.
هغه چې نن مونږ تاسو ورته اړتیا لرو هغه دا دی چې په ګډه سره همکاري وکړو ترڅو عامي او شاملی ګټي لاسته راوړو چې د هغه ګټه مونږ ټولو ته رسیږي هر یو په مونږ کې باید خپل بل ورور ته د رحمت په نظر وګوري او د هغه لپاره هغه څه خوښ کړي چې د خپل ځان لپآره یي خوښوي او خرڅونکي باید د اخیستونکي تصدیق وکړي پداسی ډول چې ګویا هغه اخیستونکی دی او اخیستونکی باید د خرڅونکي تصدیق وکړي پداسی ډول چې ګویا هغه خرڅونکي وي او دا خپله د ایمان یوه نښه ده ځکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی: په تاسو کې څوک بشپړ مومن تر هغه نشي کیدلی ترڅو چې د خپل ورور لپآره هغه څه خوښ کړي چې د خپل ځان لپآره یي خوښوي.
ای الله! مونږ ته حلاله روزي راکړي او د حرامو څخه مو وساتی او خپل فضل او رحم په وسیله مو بل چاته مه اړ کوي.